DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
۷۶۸
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش
لسم کال - دویمه دوره، ۷۶۸ مه ګڼه، پر له پسې ۱۸۳۵ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د غوايي ۱۴ مه - د سه شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الاول ۲۰ مه ۲۰۱۰ د مې ٤ مه

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د فساد پر ضد لومړنۍ محکمه پیل شوه

په افغانستان کې پر فساد، د لومړي تورن علني محکمه پیل شوه. نورمحمد چې د حج او اوقافو وزارت خزانه دار، و د فساد او بډو په تور نیول شوی دی، څارنوالانو د هغه د محکمې د پیل پر لومړۍ ورځ وویل، نوموړی د کابل په هوایي ډګر کې له ۳٦۲ زره امریکایي ډالرو سره نیول شوی چې له سعودي عربستان څخه یې کابل ته رالېږدول. د څارنوالانو په وینا دا درشوت پیسې وې، چې د حاجیانو د لېږد پر مهال یې له شرکتونو څخه اخیستې وې. ۳مخ

فروش اعضای بدن اعدام شده گان افغان در شفاخانه های ایران

شماری از افغان ها می گویند که در شفاخانه های ایران، اعضای بدن افغان های اعدام شده، به فروش می رسد. گفته می شود که اعضای بدن بخصوص گرده تا سه هزار دالر نیز، فروخته می شود.حبیب الله یکتن از باشنده گان ولسوالی غوریان ولایت هرات می گوید که ده روز پیش جسد خواهر زادهٔ او با سه جسد دیگر که در ایران اعدام شده بودند، به غوریان انتقال گردید و آنها اجساد را دفن کردند. وی گفت که بعدا خواهر زادهٔ دیگرش که در زندان وکیل آباد مشهد ایران زندانی است، به آنان تیلفون کرده، که جسد را باید چک می کردند، زیرا ایرانی ها اعضای بدن اعدام شده گان را کشیده و به فروش می رساند. به ادعای وی، ایرانی ها گرده، شش و قلب افغان های اعدامی را کشیده واز آنها در مراکز معالجوی خود به شکل تجربوی استفاده می کنند و گرده را به دیگران می فروشند. زهراء یکتن از دختران ایرانی در شهر تهران پایتخت ایران می گوید که او تکلیف کرده داشت و یک گرده را چندی پیش، از یک ایرانی دیگری که دچار مشکل اقتصادی بود، مبلغ ۳ میلیون تومان معادل سه هزار دالر خریداری نمود. او می افزاید که یک گرده تا چهار میلیون تومان نیز، به فروش می رسد. این در حالی است که شماری از اعضای ولسی جرگه نیز، روز گذشته اذعان داشتند که بعضی از اعضای بدن افغان های محکوم به اعدام در ایران، کشیده می شود. احمد بهزاد نمایندهٔ مردم هرات گفت: "کشیدن اعضای بدن اعدامیان افغان در ایران نه تنها که خلاف قوانین شرع می باشد، بلکه با متون قوانین جمهوری اسلامی ایران نیز، در تضاد است." به اساس گفته های این نمایندهٔ مردم در پارلمان، دولت ایران از اجزای بدن جنازه هایی که یا توصیه کرده باشند ویا وارثی نداشته باشند، به منظورتشریح کلاس های دانشگاهی استفاده می نمایند. وی خاطرنشان ساخت: "دولت ایران اگراین کار را بدون اجازهٔ اولیای اعدامیان انجام داده باشد، این وظیفهٔ وزارت خارجه کشوراست که از مجاری دیپلوماتیک در این زمینه اعتراض نماید." از سوی دیگر باشنده گان مرزی ولایت هرات می گویند که آنان تا حال ۱۴ جسد افغان های اعدام شده در ایران را تسلیم شده اند.به گزارش خبرگزاری روز، ساکنان ولسوالی های غوریان و کهسان هرات می گویند که آنها این اجساد را در کمتر از دو هفتهٔ اخیر در سرحد ایران تحویل گرفته و اجساد را دفن کرده اند.

روزهای تلخ آزادی بیان در افغانستان

از سوم می روز بین المللی آزادی بیان در ولایت بلخ طی نشستی از جانب ژورنالیستان آزاد و مسوولان ادارات دولتی در حالی تجلیل به عمل آمد که تا حال ردیابی عاملان قتل چندین خبرنگار طی سال های اخیر، به فراموشی سپرده شده است.

در این نشست، صالح محمد خلیق رییس اطلاعات و فرهنگ ولایت بلخ، کار و فعالیت رسانه های آزاد را در این ولایت قابل ستایش خوانده و در بخش های مختلف و حل مشکلات آنان اعلام همکاری نمود.

وی همچنان از ژورنالیستان خواست که در امور کاری شان بادرنظرداشت قوانین کشور گام بردارند.

در این نشست، ژورنالیستان رسانه های مختلف آزاد، ضمن آنکه این روز را به تمام مردم جهان تبریک گفته، مشکلات موجود در فرا راه کاری شان را بیان داشتند.

قیوم بابک خبرنگار آزاد از کارکردهای چند سال اخیر اتحادیه های ژورنالیستان در ولایت بلخ انتقاد نموده، علاوه کرد که با گذشت چندسال آنان حتا قادر به انتخابات دوباره در این اتحادیه ها نشدند که به عقیدهٔ وی، این کار خلاف خواست های خبرنگاران است.

وی گفت، برای چندین بار با مسوولان این اتحادیه ها در تماس شده، اما جواب مثبتی را دریافت ننموده است.

در این نشست، همچنان عظیم الله رسالت از رادیو کلید هم با انتقاد از عملکرد اتحادیه های ژورنالیستان، نماینده گان این اتحادیه ها ناکارا خواند.

احمدضیا فیروز پور استاد پوهنحی ژورنالیزم بلخ نیز، در کنار بیان مشکلات مختلف ژورنالیستان علاوه کرد، در صورتی که ژورنالیستان تحت یک چتر باشند، می توانند، برای حل مشکل خویش راه های معقول را جستجو نمایند.

وی هم از مسوولان و مقام های اتحادیه ها، خواهان توجه بیشتر در این راستا شد.

سوم می روز بین المللی آزادی بیان همه ص۳

د ټاکنو کمېسیون د دارالانشاء مشر وټاکل شو

عبدالله احمدزی د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د دارالانشاء د نوي رییس په توګه وټاکل شو او ټاکل شوې ده، چې نن رسماً معرفي شي.

دغه مطلب د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د رسنیو مسوول عبدالرحیم نوښتیار په ډاګه کړی او زیاته کړې یې ده، چې ټاکل شوې ده د کمېسیون د دارالانشاء نوی رییس نن معرفي شي.

د نوښتیار د معلوماتو له مخې، د دارالانشاء نوی رییس د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په مشوره د هېواد د ولسمشر له خوا ټاکل شوی دی. عبدالله احمدزی د ټاکنو د خپلواک کمېسیون تر جوړېدو مخکې، د ټاکنو تنظیم د ګډ دفتر په چوکاټ کې د دې کمېسیون د عملیاتي مشر په توګه دنده ترسره کوله او وروسته یې د ایشیا فونډېشن په موسسه کې کار کاوه. دا په داسې حال کې ده، چې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د دارالانشاء د دې پُست سرپرست و.



پخواني رییس نژدې دوې اونۍ مخکې له خپلې څوکۍ څخه استعفا وکړه او زکریا بارکزی د لنډې مودې لپاره

د مارچې اوسېدونکي یو ځل بیا کډوالۍ ته اړ شول

اوس د شپې له خوا په سیمه کې د طالبانو واکمني وي او د ورځې هم د چاودنو، بریدونو او ترور کولو لړۍ روانه وي

په مارجه کې تر پوځي عملیاتو وروسته :

د هلمند د مارجې ولسوالی یو شمېر اوسېدونکي وایي، چې د ناامنیو له امله ګڼ شمېر کورنۍ یو ځل بیا لښکرګاه ته کډوالې شوې دي.

شاوخوا درې میاشتې مخکې زرګونو افغان او نړیوالو ځواکونو د مشترک په نامه په مارجه او نادعلي ولسوالیو کې عملیات ترسره کړل او له وسلوالو طالبانو څخه یې ددغو سیمو د پاکولو اعلان وکړ.

د دې عملیاتو پرمهال او له هغې مخکې زرګونه کورنۍ لښکرګاه او نورو سیمو ته کډوالې شوې وې، خو د عملیاتو له بشپړېدو وروسته دغه کورنۍ بېرته خپلو سیمو ته ولاړې. خو اوس د مارجې ځایي اوسېدونکي له ناامنیو څخه شکایت کوي او وایي، چې اوس هم د شپې له خوا په سیمه کې د طالبانو واکمني وي او د ورځې هم د چاودنو، بریدونو او ترور کولو لړۍ روانه وي. ۳مخ

په پکتیا کې د یوې کورنۍ شلو غړو ته مرګ ژوبله واوښته

په پکتیا ولایت کې ماین چاودنې د ښځو او ماشومانو په ګډون د یوې کورنۍ تر شلو زیاتو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړوله. لومړۍ پېښه ورمه ورځ ماښام ناوخته د پکتیا ولایت اړوند د زرمت په ولسوالۍ کې د ملکي وګړو په یو فلاینګ کوچ ډوله موټرپسې رامنځ ته شوې، چې له امله یې په موټرکې سپاره اته ملکي کسان ځای پرځای وژل شوي او څوارلس تنه ټپیان شوي. په موټرکې سپاره کسان چې د یوې کورۍ غړي دي، زیاتره یې مېرمنې او ماشومان دي. ویل کېږي چې چاودنه ۳مخ

COMITE INTERNATIONAL GENEVE
دوې ورته استخباراتي پېښې او ورته درېځونه

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

در آستانهٔ گرامیداشت روز شهدا و معلولان

تداوم سی سال بحران، جنگ ها و مصایب گوناگون دیگر در کشور، جان میلیون ها تن را گرفت و میلیون ها تن دیگر را از خانه و کاشانهٔ شان آواره و صدها هزار تن دیگر را معیوب و معلول ساخت. این در حالی است که جریان کشتن، معلول شدن و آواره شدن همچنان در کشور ادامه داشته و هنوز معلوم نیست که این بحران تاریخ، چه زمانی به پایان خواهد رسید.

این شهادت ها و معلولیت ها، اگر از سویی تاثیرات ناگوار روانی یی بر اعضای خانواده هایی که در بستر نابسامانی گذشته و جاری کشور عزیزان شان را از دست داده اند، گذاشته، از سوی دیگر، پیکر و شیرازهٔ اقتصادی آنان را نیز خورد و خمیر ساخته است. امروز بسا خانواده هایی در کشور وجود دارند که با از دست دادن و یا معلولیت عزیزان شان، بی سرپرست مانده و کسی نیست که حد اقل امور معیشتی و نفقهٔ آنان را سروسامان داده و به این مأمول رسیده گی نماید. این خانواده ها در شرایط نهایت دشواری امرار حیات می نمایند، اطفال و کودکان شان به جای اینکه به مکتب و مدرسه بروند، همه روزه سرگردان دریافت لقمهٔ نانی برای خود و فامیل خود هستند که برای برآورده شدن این مامول، دست به کارهای نهایت شاقه و دشواری می زنند.

به هر صورت، این مسوولیت دولت و دولتمردان کشور است که با درک مکلفیت و مسوولیت های خود و درک مشکلات و نابسامانی های ورثهٔ شهدا و معلولان از خود کارایی لازم نشان دهد، ولی طوری که دیده می شود، دولت در این راستا گرچه از طریق وزارت مستقلی زیر نام وزارت کار و امور اجتماعی و شهیدان و معلولان بودجهٔ گزافی را به مصرف می رساند، اما با این همه نتوانسته کمترین مشکلی آنان را رفع کند. دولت و مقام های مسوول در این خصوص، باید بدانند که با دادن امتیاز ۳۰۰ – ۴۰۰ افغانی در ماه به ورثهٔ شهدا و معلولان، کاری را به جایی نبرده، بلکه با این راهکار که آنهم با فساد آلوده است، ورثهٔ شهدا و معلولان را بیش از پیش دردمند ساخته اند. چنانکه معلوم است، این پولی که به نام ورثهٔ شهدا و معلولان از طریق بودجهٔ دولت توزیع می گردد، در قدم نخست، بر پایهٔ مفاهیم و منافع گروهی صورت می گیرد، و در قدم دوم، در بسا موارد، به کسانی تعلق می گیرد که نه ورثهٔ شهید بوده و نه معلولی دارند، بلکه ساخت و بافت های فساد که هم اکنون آسمان و زمین کشور را فراگرفته است، در آن راه یافته و این پول ناچیز را نیز به کام نافرجام خود فرو می برد.

گذشته از این، باید خاطر نشان کرد که اگر این پول ناچیز به صورت درست و واقعی آن نیز توزیع گردد، به هیچ صورت نمی تواند، حلال مشکلات اقتصادی آنان باشد؛ چرا که بر همه آشکار است، که ۳۰۰ – ۴۰۰ افغانی با نرخ و نوای امروزی، مصرف یک روزهٔ فی نفر را تکافو نمی نماید، پس چگونه ممکن خواهد بود که با این مبلغ، یک خانواده چند نفری حداقل امرار حیات نماید. دولت و مقام های مسوول در این راستا باید، با درک واقعی نیازمندی ها و دشواری های این بیچاره گان که عزیزان شان را در راه دفاع از کشور از دست داده اند و یا معلول شده اند، به داد و فریاد آنان رسیده گی نموده و به مثابهٔ وظایف اصلی خود در این راستا گام بردارد. دولت باید در این خصوص به برنامه ریزی پروسه ها و راهکارهای کارا توسل جوید، جهت حل اساسی مشکل آنان، باید زمینه های کاری مناسبی را برای آنان جستجو نماید. چیزی که می تواند باعث شگوفایی و پویایی اقتصادی آنان گردیده و هم می تواند، از میزان فقر، بیکاری و مهاجرت ها در کشور بکاهد.

دوې ورته استخباراتي پېښې او ورته دريځونه

محمدحسن حقيار

د روان کال دوري پر ۲۱مه د شنبې په ورځ درې تنه ايټاليايان د هلمند د والي محمد ګلاب منګل د ترور او وژنې د دسيسې په تور له شپږو افغان کارکوونکو سره يوځای ونيول شول. دغه خبر د هلمند د والي وياند، پخپله والي او نورو لوړپوړو دولتي چارواکو هم تاييد کړ، د هلمند چارواکو او نورو افغان امنيتي او استخباراتي مسوولانو په تاکيد سره دا هم افشاکړه، چې په دغه دسيسه کې په هلمند کې د ايمرجنسي روغتون عمومي رييس ډاکتر مارکوهم شامل دی. د چارواکو د وينا له مخې، دغه کسان له څه مودې راپه دې خوا د ملي امنيت د ځواکونو ترڅارنې لاندې وو او د وري پر ۲۱مه د شنبې ورځ د ۱۲ بجو په شاوخوا کې له دوو ځانمرګو واسکټونو، دووتومانچو اونهو لاسي بمونو سره په نوموړي روغتون کې ونيول شول. د هلمند ولايت امنيتي سرچينو او د ولايت د مقام وياند احمدي، رسنيو ته وويل چې دغو په اصطلاح ترورستانو داسې تکتيک جوړ کړی و، چې لومړی د لښکرګاه ښار په يوه ګڼ مېشته سيمه کې ځانمرګی برید وکړي او کله چې والي محمد ګلاب منګل روغتون ته د دې لومړي ځانمرګي برید دټپيانو د پوښتنې لپاره ورځي، نو دويم ځانمرګی برید به پرې ترسره کړي. د امنيتي سرچينو او د ولايت د مقام د وياند په وينا، د ايمرجنسي روغتون د ناروغانو عمومي ډايرکټر مارکو د دې پروګرام د ترسره کولو په بدل کې له طالبانو څخه پنځه سوه زره ډالرهم ترلاسه کړي وو. په دې کې شک نه شته، چې بهرنيان د افغانستان د لوړ پوړو چارواکو اومسلکي کادرونو په وژلوکې لاس لري (د هغو زرګونو ملکي وګړو پر وژنه بحث نه کوو، چې د ناټو په بمبار او پر کورونو د ورختلو په پايله کې وژل کېږي)، بلکې پخواهم داسې نورې پېښې رامنځ ته شوې دي، چې په افغانستان کې بهرني کارکوونکي اويابهرني خواکونه په کې لاس لري، چې د هغوی له جملې څخه د اجمل نقشبندي مرموزمرګ، په کندهارکې د هغه ولايت د امنيه قوماندان وژنه، د هغوکسانو له خوا چې په کندهار کې يې امريکايي خواکونوته کارکاوه. په کندوز کې د خبريال سلطان محمد منادي وژنه دغه راز څه موده د مخه د پکتيا ولايت مرکز ګردېز ښارته څېرمه امريکايي ځواکونو په يوه چاپه کې د دوو امينداوارو ښځو په شمول پنځه تنه وژلي وو، چې دکورنۍ مشر د هغه ولايت د امنيت کارکوونکی اوبل وژل شوی شخص د همدې ولايت د څارنوالۍ مامور و. دغه راز د تېرکال په وروستيوکې د غربي نړۍ په رسنيوکې داسې مطالب خپاره شول، چې امريکايي کمپنۍ بلک واټر چې په افغانستان کې په بل نامه کارکوي، په پټه توګه د ورځې او ياد شپې له خوا د خلکو کورونو ته ورځي او په دې توګه نښه کړې کورنۍ او يا پېژندل شوي کسان ترور او وژني. په هرحال د هلمند د توطيې غبرګون په مطبوعاتوکې ډېرپراخ و او په هلمندکې خويې د چارواکو په لمسونه پر وړاندې لاريونونه هم وشول. دولتي چارواکي وايي، چې د اجمل نقشبندي په وژنه کې د لاس لرلو په اړه د ايمرجنسي پر ډايرکټر مارکو پخوا يوازې شک و، خو د دې وروستۍ پېښې په رامنځته کېدو سره د دوی شک پر يقين بدل شو. خويوه اونۍ وروسته هرڅه د انتظار خلاف راووتل او افغان دولت د تل په څېر په بر ښښنايي ډوله چټکتياشاتګ وکړ، په دې ډول چې د وري پر ۲۱مه د دوشنبې په ورځ د ملي امنيت له خوا يوه اعلاميه خپره شوه، چې په کې داسې راغلي دي. ((لکه څنګه چې وطنوال د رسنيو له لارې خبر دي، د ۱۳۸۹ لمريزکال په هلمندکې د امنيتي عملياتو پواسطه د ايمرجنسي روغتون له داخل څخه يوه اندازه وسله اومهمات کشف او دې پېښې په ارتباط درې تنه ايټالوي اتباع او شپږ تنه د هغه روغتون محلي کارکوونکي ونيول شول. تر عملياتو وروسته د دې پېښې اړونده دوسيه له ذکر شويو کسانو سره يو ځای مرکزته د تحقيق، پلټنې او حقيقت موندلو لپاره راولېږدول شوه اوبيا ملي امنيت ته وسپارل شوه.

د قضيې په اړه د سپينو اومسلکي تحقيقاتو په پايله کې دغه نتايج ترلاسه کېږي.

دغه قضيه د افغانستان د سولې اوامن د دښمنانو له خوا له پولې آخوا طرح شوې او د دښمنانو له خوا په زور اوفشار سره د هلمند ولايت د ايمرجنسي روغتون يو با صلاحيته داخلي کارکوونکي، چې په جبري توګه په دغه توطيه کې دخپل نقش اجراکولو ته اماده شوی د حقايقو په روښانه کېدو سره د ايټاليا درې تنه اتباع او د ايمرجنسي روغتون پنځه تنه نور محلي کارکوونکي ګرم نه دي او په دې توګه درې تنه ايټاليايي اتباع په کابل کې د ايټاليا دسفارت مقاماتو ته وسپارل شول اوپنځه تنه افغاني اتباع هم خوشې کړل شول.))

اوس به کوم افغان او يا له دې پېښې څخه خبر بل کس په دې باور وکړای شي، چې دا قضيه په رښتيا هم دومره ساده وه او په دومره اسانۍ سره حل وفصل شوه، په دې کې ډېرې پوښتنې د ځواب په تمه دي، آيا په رښتيا هم په دې پېښه کې د ايټاليايي اتباعو او د پنځو تنو نورو افغانانو لاس و اوکه نه؟ که چېرې دا خوشې کړای شوي بهرنيان او افغانان بېګناه وي، نو بيا د امنيت کارکوونکو، د هلمند د ولايت وياند او پخپله والي ګلاب منګل ولې په دومره شور او ځوږ سره داموضوع رسنيو ته وسپارله؟ او ولې درې تنه بهرنيان اوپنځه تنه بېګناه افغانان دې قضيې ته ورټېل وهل شول؟ دوی خو په ټينګه ويل، چې آن مارکو له طالبانو هم پنځه لکه ډالر اخيستي دي. دوی خو ويلي وو، چې دې کسانو له سطحي ټپي پوليسو او عسکرو هم لاسونه او پښې غوڅولې او ان هلمندیان يې ددوی د محاکمې د غوښتلو لپاره لاريون ته هم را وايستل. دوی خو ويل چې داسې اسناد لري، چې د اجمل نقشبندي په وژلو کې هم همدا ايټالويان لاس لري. دوی خو ويل چې ددې په اصطلاح اروپايي ترورستانو ټول پلان اونقشه يې کشف کړې ان چې کله والي روغتون ته ورځي، نو دوی به پرې بريد کوي...

هغه وخت خو امنيتي کارکوونکي، والي او د هغه وياند ټولو برېتونه تاوول، چې يوه لويه کارنامه يې ترسره کړه، د دوی په وينا، د خاورې اووطن ډېر ستر دښمنان!! يې مخکې له دې چې خپله توطيه ترسره کړي ونيول. هلته خو يوه شخص هم نه ويل، چې دوی پر دې کسانوشک يا ګومان لري، بلکې دعين اليقين دعوه يې کوله نو دا عين اليقين ولې ورک شو؟ موږ وړاندې هم ويلي، چې په افغانستان کې د القاعده او په اصطلاح له تروريزم سره مبارزه ډېر پېچلې ده او آن د نړۍ ډېر تکړه سياسي کتونکي هم د دې جړې تنستې سر پيداکولای نه شي. موږ ويلي چې د متحدوايالاتو له څو تنو ستراتيژستانو پرته د افغان دولت په شمول نور هېڅوک نه پوهېږي، چې د القاعده او تروريزم په پلمه روانه ډرامه دکومو موخو لپاره پيل شوې اوترڅو به روانه وي. په هلمندکې داسې ډرامې ډېرې تمثيل شوې او دا لومړی ځل نه دی، چې يو سريال نندارې ته وړاندې کېږي. کله چې طالبانو د دانيل ماستروجياکومو په نامه ايټالوی خبريال او د هغه افغان ژباړن اجمل نقشبندي ونيول، نو کرزي د ماستروجياکومو پرسر د ايټاليا د حکومت پرټينګارله طالبانو سره درنه معامله وکړه او څو تنه مهم مشران يې ورپرېښودل. وروسته څرګنده شوه، چې جياکومو د ايټاليا د استخباراتو ډېرمهم غړی و، خو په هماغې يوې پېښه کې د اجمل نقشبندي په خاطر طالبانو ته کوچني امتيازورکولو ته هم چمتو نه شو، چې پايله يې د نقشبندي سر پرې کول شول. هغه مهال هم ايټاليايي ماستروجياکومو روغ رمټ خپل کور ته ستون شو، خو د همدې روغتون د هغه وخت افغان مسوول رحمت الله حنفي چې په دې پېښه کې يې د دولت او طالبانو ترمنځ منځګړتوب کړی و، افغان دولت بندي کړ. داځل هم مارکو او د هغه ملګري روغ رمټ خپلو کورونو ته ستانه شول، خو يو تن افغان د قربانۍ ګډوری (پسه) شو. ډېر امکان لري چې څو ورځې وروسته خبر شو، چې ډاکتر مارکو او د هغه ملګري هم د ايټاليا د استخباراتو مهم

۳مخ

پیوندگر ...

شده‌است.سال ۲۰۰۶ بود که فیروزکوه تأسیس شد، از همان آغاز، از دیگر مراکز آموزشی در افغانستان پیشی گرفت و روز به روز بر اعتبار خود، در بیرون از جغرافیای افغانستان، افزود.اما برای بسیاری از مردم داخل، هنوز بیگانه است.

مؤسسهٔ فیروزکوه، شاید تنها مؤسسه‌یی باشد که بخش‌های آموزش حرفه‌یی، تولید، تجارت، اداره و فرهنگ را دارد و همهٔ این بخش‌ها در کنار یکدیگر، در صدد زنده نگه داری فرهنگ و معماری اصیل افغانی است، تا مبادا به دست فراموشی سپرده شود.

آموزشگاه فیروزکوه با برگزاری دوره‌های آموزش حرفه‌یی با استادان ورزیدهٔ داخلی، شاگردان زیادی را در بخش‌های خوشنویسی، نقاشی، نجاری یا کار روی چوب، ساخت زیورآلات و صیقل‌دهی سنگ‌ها آموزش داده‌است و نقش یک هنرستان تمام‌عیار و کاملاً معیاری را در افغانستان ایفا می‌کند.آنچه بر اعتبار آن افزوده، اعتماد سرشار به آینده است که در شاگردان فیروزکوه به چشم می‌خورد.آموزش معیاری، کار تخصصی،و آیندهٔ کاری روشن، وجه تمایزی است، میان فیروزکوه و سایر آموزشگاه‌های داخلی و خارجی در افغانستان.

خدیجه، دختری شانزده‌ساله است که سه سالی از آموزش او در بخش نجاری فیروزکوه، می‌گذرد.او می‌گوید: حضور در فیروزکوه، حال و هوای زنده گی او را تغییر داده‌است.به دو دلیل: یکی آشنایی با هنر افغانی و دیگری خارج شدن از حصار تنگ باورهای مردانه.زیرا او شغلی را برگزیده که سال‌هاست، به نام کار مردانه شناخته شده‌است.

روری براون، سخنگوی موسسهٔ فیروزکوه، می‌گوید، آنها در صدد یافتن بازارهای خارجی برای تولیدات‌شان هستند؛ زیرا افغانستان به دلیل وضعیت اقتصادی ضعیف، بازار مناسبی برای فروش نیست.از همین رو، آنها اجناس‌شان را برای بازارهای خارجی و به قیمت گزافتری قیمت‌گذاری کرده‌اند.

آموزش در فیروزکوه دربردارندهٔ سه بخش است: بخش اول درس‌های نظری در حوزهٔ تخصصی، درس های عملی در بخش مربوط و آموزش زبان انگلیسی، پشتو و کمپیوتر است.به گفتهٔ آقای خلیلی، مدیر بخش آموزشی فیروزکوه، داشتن تحصیلات پایه، استعداد هنری و موفقیت در آزمون‌های نظری و کاربردی، از شرایط جذب سالانهٔ شاگردان در دوره‌های آموزش سه‌سالهٔ این مرکز است و پس از پایان دورهٔ آموزشی، آنها امکان کار در فیروزکوه را برای متقاضیان آموزش‌دیده فراهم می‌کنند.همچنین دانش‌آموزان با شگردهای کاریابی، تجارت و بازاریابی در داخل و خارج از کشور آشنا می‌شوند که در صورت کار مستقل می‌توانند، از آن بهره ببرند.

خلیلی می‌گوید: " آموزشگاه فیروزکوه متخصصان را برای بخش تولید آماده می‌کند و بخش تولید درآمد لازم را برای تداوم کارهای فیروزکوه فراهم می‌کند".

در حال حاضر، مواد خام برای کارهای تولیدی این مرکز، مانند چوب درخت چهارمغز (گردو) برای بخش نجاری، سنگ‌های قیمتی برای ساخت زیورآلات و برخی مواد دیگر، از داخل افغانستان تأمین می‌شود.اما ماشین‌آلات لازم از خارج وارد می‌شود.

فیروزکوه با کار در بخش آموزش و تجارت توانسته‌است، زمینهٔ آموزش و کار را برای تعدادی از مردم محلی فراهم کند و در کنار آن با کارهای متنوعی که خصوصاً در بخش معماری در خارج از افغانستان داشته، تا حدود زیادی به شناسایی هنر و معماری اصیل افغانی، کمک شایانی کرده و نیز بخشی از تجارت جهانی

روزهای تلخ آزادی بیان در ...

ساله در کشورهای مختلف تجلیل می شود که طی آن مشکلات و چالش های ژورنالیستان به بررسی گرفته می شود.

رسانه های افغان در حالی برای تجلیل از آزادی بیان آماده می شوند که گزارش های متعددی منبی بر نگرانی های فزاینده از بدتر شدن شرایط کار رسانه یی در افغانستان حکایت دارد.

باوصف آنکه در چند سال اخیر، تعداد رسانه ها در کشور، افزایش قابل ملاحظه داشته است، اما در این میان، شماری از خبرنگاران جوان قربانی حوادث ناگوار شدند که اکثرا مسوولان دولتی را در این راستا مقصر می دانند.

کشته شدن اجمل نقشبندی، عبدالصمد روحانی، ذکیه ذکی، جاوید احمد و .... در سال های اخیر، از خاطره های تلخ مطبوعات افغانستان می باشد که ژورنالیستان یادشده در راه اطلاع رسانی جان های شان را قربانی کردند، اما مقام های دولتی در خصوص نجات جان آنان کمتر توجه کردند.

مداخلات ایران و بی پروایی ...

تا"...سیاست خارجی کشور را بر مبنای حفظ استقلال، منافع ملی و تمامیت ارضی و عدم مداخله، حسن همجواری، احترام متقابل و تساوی حقوق...." تنظیم نماید. گذشته از آن، رییس جمهور منتخب در سوگند وفاداری به حراست از استقلال، حاکمیت ملی و تمامیت ارضی افغانستان، حراست از حقوق و منافع مردم افغانستان سوگند یاد کرده است.

وزرا ی حکومت و به این ترتیب، وزرای دفاع و داخله و خارجه نیز، به حراست از حقوق اتباع، استقلال، تمامیت ارضی سوگند خورده اند.

آنان همه بر رعایت قانون اساسی نیز، سوگند یاد کرده اند. اگر اینها مسوولیت این همه را بر دوش ندارند، کیها را باید مسوول پنداشت؟

دوې ورته استخباراتي پېښې...

غړي وو. هغه مهال چې د ایټالوي ډاکټرانو د نیولو او له القاعده سره د هغوی د تړاو خبرونه ورکړل شول، نو موږ ولیکل چې کېدلای شي، دا د روانې پېچلې ډرامې یوه برخه او د لویو استخباراتي کړیو د جګړې یو لوری وي. دا دی اوس ثابته شوه چې خبره همدا وه. ایټالویانو پر برېتانویانو تور ولګاوه، چې دادسیسه ورته دوی جوړه کړې وه. د تېرځل په څېر داځل هم کرزي د ایټالیا د حکومت فشار ته تندی ټیټ کړ او د حکومت په وینا دومره لوی ترورستان یې ورته خوشې کړل. که دوی په رښتیا هم لکه دولتي چارواکو چې دعوه کړې وه، له پولیسو او عسکرو روغ غړي غوڅ کړي وي، نو ددې جرم! پوښتنه ولې ونه شوه. موږ پخپله تېره لیکنه کې ټول هغه دلایل وړاندې کړي وو، چې له مخې یې دا پېښه ډرامه ښکارېده او اوس ثابته شوه، چې په رښتیا هم داپېښه ډرامه وه. موږ ویلي وو چې له ترورویزم د مبارزې په نامه افغانستان ته راغلي بهرني پوځونه دلته یوه خوله او یوه قوماندنه نه دي، آن یو بل ته کندې باسي، دادی پر بریتانویانو د ایټالویانو دعوې ثابته کړه، چې رښتیا هم دوی یو بل ته صاف زړونه نه لري. له بده مرغه موږ تل د نورو د لاس اله یو او د نورو د خوښۍ لپاره خپلې ملي ګټې هم ترپښو لاندې کوو. که نه کله چې دعوه کوو چې موږ پاخه مجرمان ونیول، نو باید بیا یې د محاکمې جرئت هم ولرو، که نه نو ولې پرې رسنۍ خبروو او خبر ته ولې دومره هوا ورکوو. که دوی مجرمان وو، نو ولې په دې برخه کې څېړنې اوتحقیقات ونه شول؟ آیا داپه دې مانا نه ده، چې افغان مسوولان د پردیو د لاس اله دي؟! که ایران زموږ سلګونه بېګناه هېوادوال د نورو د عبرت لپاره سیاستاً اعداموي، نو موږ ولې پېژندل شوي نړیوال مجرمان او د پردیو جاسوسان نه شو اعدامولای او که داکار نه شو کولای او تل د نورو په اشاره څرخو، نو بیا د خپلواکۍ دعوه ولې کوو؟

د مارجې اوسېدونکي یو ځل بیا ...

د عبدالستار په نامه د مارجې یوه اوسېدونکي چې تازه له مارجې څخه لښکرګاه ته کډوال شوی، وویل چې تر عملیاتو وروسته اوس هم هره ورځ هلته جنګونه، نښتې او چاودنې رامنځته کېږي.

هغه چې د مارجې د کمپ د سیمې اوسېدونکی دی، زیاته کړه: ((خلک خپل ورځني کارونه په ډاډه زړه پرمخ نه شي وړلای او په خپلو کورونو کې بند پاتې دي.))

د سردار ولي په نامه د مارجې یو بل اوسېدونکی چې دوې ورځې مخکې لښکرګاه ته کډوال شوی، وایي چې اوس هم د مارجې په ټولو ساحو کې طالبان واکمن دي.

هغه وویل: ((هلته تش په نامه عملیات ترسره شوي، د خلکو په ژوند او امنیت کې هېڅ تغییر نه دی راغلی.))

سردار ولي وایي، چې د مارجې اوسېدونکي هم د طالبانو او هم د نړیوالو ځواکونو له خوا ګواښل کېږي او ستونزې ورته جوړوي.

د هلمند د سرې میاشتې رییس ډاکټر احمد الله احمدي هم وایي، چې په دې وروستیو کې د جنګونو او ناامنیو له امله له سلو څخه زیاتې کورنۍ لښکرګاه ته کډوالې شوې دي.

هغه پژواک اژانس ته وویل، چې په دې کورنیو کې یې له پنځوسو څخه زیاتې یې له مارجې څخه راغلې او پاتې نورې یې د باباجي او نادعلي د سیمو دي.

دی وایي، چې له مرستندویه ټولنو څخه یې له دغو کډوالو سره د مرستې غوښتنه کړې، خو تراوسه چا ورسره مرسته نه ده کړې.

خو د هلمند د والي ویاند داوود احمدي وایي، چې دغه کورنۍ د ناامنۍ له امله نه دي کډوالې شوې.

هغه وایي: ((دغه کورنۍ په خپلو ځمکو د کرل شویو کوکنارو د حاصل راټولولو په موخه تللې وې، چې اوس بېرته لښکرګاه ته راغلې دي.))

بلخوا د مارجې یو شمېر اوسېدونکي وایي، چې وسلوال طالبان له کروندګرو څخه د کوکنارو د حاصل پر سر ۱۲ زره کلدارې اخلي، چې دغه کار هم د خلکو د کډوالۍ لامل شوی دی.

خو طالب ویاند قاري یوسف احمدي دغه ادعا په کلکه رد کړه او زیاته یې کړه، چې طالبانو له چا څخه پیسې نه دي اخیستي.

هغه وویل: ((ځینې خلک په خپله خوښه له طالبانو سره مرستې کوي، چې امارت ورته هرکلی کوي.))

په پکتیا کې د یوې کورنۍ شلو غړو ته ...

دومره زوروه وه، چې موټر په بشپړ ډول له منځه تللی او د پېښې د ځینو قربانیانو جسدونه هم ټوټه ټوټه شوي دي او سمه پېژندګلوي یې نه کېږي.

د سیمې ولسوال ګلاب شاه وایي، چې یاده چاودنه هغه مهال د ملکي وګړو د سپرلۍ په فلاینګ کوچ ډوله موټر پسې رامنځ ته شوه، چې کله د زرمت ولسوالۍ سرکۍ سیمې نه د سهاکو په نامه یوې بلې سیمې ته د خپلو کور پر لور روان و.

نوموړي خلک یو ملا ته چې په دې وروستیو کې راپیدا شوی، د تعویضونو او دم لپاره د خپل صحت د ښه والي په هیله وراغلي وو، چې په لاره کې چاودنه پرې وشوه.

د پېښې له امله ټپیان شوي کسان د پکتیا ملکي روغتون ته چې تعداد یې څوارلسو کسانو ته راسېږي. د دې ولایت د عامې روغتیا رییس پر وینا د ځینو روغتیایي حالات نازک دي.

خو د پکتیا د امنیتي قومندانۍ د امنیت امرغلام دستګیر رستم یار د ملکي خلکو پر دغه دردونکي پېښه خواشیني وښوده او دا کار یې د وسلوالو طالبانو وباله.

د تاند د راپور له مخې، که څه هم تل وسلوال طالبان پر ملکي خلکو دا ډول پېښې چې د دوی له خوا رامنځ ته کېږي ردوي، خو د دې پېښې مسوولیت تردې مهاله چا پرغاړه نه دی اخیستی.

د فساد پر ضد لومړنۍ محکمه پیل ...

دوی وویل چې د نورمحمد داسې ټېلېفوني خبرې یې ثبت کړي، چې د پخواني وزیر صدیق چکري او هوایي شرکتونو تر منځ د بډو اخیستلو لپاره واسطه کېږي.

د حج او اوقافو پخوانی وزیر صدیق چکر وار له مخکې د لویې څارنوالۍ له لوري پر فساد تورن شوی دی او د نیولو حکم یې شوی دی، خو نوموړي دغه تورونه رد کړي او تر اوسه لا په برېتانیا کې اوسېږي.

نورمحمد وویل چې یادې شوې پیسې یې د حاجیانو لپاره د استونګنځایونو د برابرولو لپاره سعودي ته وړې وې او د وزیر صدیق چکري په امر یې بېرته کابل ته راوړلې. څارنوالانو دا هم وویل چې د نورمحمد په بانکي حساب کې شل میلیونه افغانۍ موندل شوي، چې د فساد او بډو له لارې یې تر لاسه کړې دي، خو نورمحمد وایي دغه پیسې یې د خپل کور د پلورلو له لارې موندلې وې. په افغانستان کې د فساد ادعاوې ډېرې پراخې دي، ولسمشر کرزی پخپله دا مني چې په حکومت کې یې فساد جړې غځولې دي. ویل کېږي چې د پخوانیو او اوسنیو وزیرانو په ګډون یو شمېر لوړ پوړي چارواکي په فساد کې لاس لري، خو ښاغلي کرزي ویلي حکومت به یې له فساد سره کلکه مبارزه کوي او په دې لړ کې د هېواد لویې څارنوالۍ پر ځینو چارواکو د فساد تورونه هم پوري کړي خو نیول شوي لا نه دي.

د بي بي سي د راپور له مخې، د نورمحمد محکمه په افغانستان کې د فساد پر ضد د خپل ډول لومړنۍ محکمه او د فساد پر ضد قضایي بهیر لومړنی پړاو بلل کېږي.

په سمنګان کې ۱۴ پروژې بشپړې شوې

د سمنګان ولایت په مرکز ایبک ښار او شپږو کلیو کې د ملي پیوستون ۱۴ بېلابېلې پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د سمنګان والي پوهنیار خیرالله انوش د غوايي پر ۱۳مه وویل، چې یادې ۱۴ پروژې د اتو میلیونو او سل زره افغانیو په بدل د یوه کال په موده کې بشپړې او د ګټې وړ وګرځېدې. د سمنګانو د کلیو د پراختیا رییس انجنیر محمد امان امین وویل، چې په یادو پروژو کې د څښلو د پاکو اوبو ۵ پروژې، یو ټولنیز او فرهنګي مرکز، پر ۱،۸ کیلومتره سړک کړېږ اچونه، ۸۹ متره استنادي

دېوال، د حیاتي زده کړو کورس او د سلو ښځو لپاره د خیاطۍ درې بېلا بېل کورسونه هم شامل وو. د نوموړي د معلوماتو له مخې، د یادو پروژو له بشپړېدو څخه ۲۰۰ کورنۍ د څښلو له پاکو څخه برخمنې شوې، چې په ټولیز ډول په بېلابېلو برخو کې ۱۵۶۰ کورنیو له دې پروژو څخه ګټه ترلاسه کړې ده. همداراز والي وویل، چې په سمنګان کې تېر کال ۱۱۶۰ بېلابېلې پروژې بشپړې شوې، چې ۸۵۴ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغلی دی. نوموړي وویل، چې له دې پروژو څخه شاوخوا ۸۷ زره کورنیو ګټه پورته کړې او دا مهال ۱۳۵ پروژې تر کار لاندې دي. دایبک ښار ځایي اوسېدونکي عبداللطیف پژواک خبري اژانس ته وویل، چې له دې وړاندې په سیمه کې د پاکو اوبو کوم ځانګړی سیستم نه و. هغه وویل، چې د پاکو اوبو د ترلاسه کولو په موخه به ۶ کیلومتره وړاندې تلل او د دې پروژې په ترسره کولو ۲۵۰ کورنۍ اوس له پاکو اوبو څخه برخمنې شوې. د یادونې وړ ده، چې په دې ولایت کې د وري په میاشت کې ۴ سترې پروژې بشپړې شوې، چې بر ېښنا، استنادي دېوالونه او پولګوټي په کې شامل وو.

مداخلات ایران و بی پروایی حکومت افغانستان

به قلم: دکتراندس م. نبی هیکل

با گذشت هر روز این حقیقت آشکارتر از پیش می گردد که ایلیت سیاسی حاکم در برابر منافع ملی مردم افغانستان بی تفاوت است. اگر این استدلال درست باشد که حکومت ناتوان است، لاف حکومت مبنی بر توانایی دفاع از حاکمیت ملی در یک مورد و ناتوانی اعتراض در برابر اعمال ایران، سوال تابعیت و وابستگی بیشتر را به وجود می آورد. به عبارت دیگر، چرا رییس حکومت و دولت جمهوری اسلامی افغانستان توانست، در برابر مداخلات متحدان بین المللی خود با لحن شدید اعتراض نماید؛ در حالی که در برابر مداخلات ارضی، قتل و بی حرمتی به شهروندان افغان و مداخلات فرهنگی کشور ایران از اغماض و بهانه تراشی کار می گیرد؟ چه چیزی مداخلات آن یکی را برخلاف حاکمیت ملی و استقلال افغانستان می سازد که از این یک دیگر را نمی سازد؟ و باز چه چیزی موجب واکنش در برابر اولی و سکوت در برابر اعمال آن دیگر می گردد؟ این پرسش ها را شورای ملی باید در برابر حکومت قرار دهد.

از اغماض به این دلیل می توان سخن گفت که از مداخلات ایران از هر سوی دیگر به استثنای حکومت افغانستان سروصداها و "ناله ها شنیده شده. رسانه های جمعی گزارش هایی را از شکایات قوای سرحدی مبنی بر مداخلات مسلحانهٔ قوای سرحدی و عدم توانایی نظامی این قوا، تصادمات مسلحانه در سرحد، وضعیت مهاجران افغان و اعدام افغانان به نشر ر سانده اند و مردم نیز، در مصاحبه های انجام شده از حقایق تلخ مبنی بر تجاوزات سرحدی، حتا الحاق ارضی حاکی و شاکی اند؛ در حالی که برخورد مقام های وزارت خارجه در محدودهٔ اطلاعات رسمی و تحقیقات ناکامل، باقیمانده است. بی کفایتی وزارت امور خارجه، دلایلی دارد و دو عامل عمده این خواهد بود که یا آقای وزیر به دلایل غیر از شایستگی از جانب رییس دولت پیشنهاد و از سوی پارلمان تایید گردیده و یا اختیار کارش را دیگری در دست دارد. هرگاه پارلمان که بار مسوولیت تقرر چنین افراد را به صورت مستقیم بر عهده دارد، چنین افراد را بر اساس چنین دلایل سلب اعتماد ننماید، تاریخ و مردم در مورد آن قضاوت خواهد کرد. بی کفایتی یی بالاتر از این چه می تواند باشد؟

اخبار هفت و سی صبح سه شنبه هفتم ثور ۱۳۸۹ تلویزیون طلوع همچنان نشان داد که وزارت دفاع ملی را که نه تنها مسوولیت همکاری با نیروهای بین المللی را در جنگ علیه تروریزم (وظیفهٔ بین المللی) بر دوش دارد، بلکه مسوولیت اساسی دفاع از استقلال و تمامیت ارضی کشور را نیز، برعهده دارد، باید به پارلمان فراخواند و سلب صلاحیت کرد. آیا حفاظت سرحدات و دفاع از مداخلات مسلحانه، وظیفهٔ این وزارت نیست؟ آیا حفظ سرحدات، موجب کاهش در مداخلات مسلحانه و قاچاق مواد مخدر و افراد و تسلیحاتی که موجب انفجارها و مرگ هموطنان ما می گردد، نمی گردد؟ دفاع از سرحدات وظیفهٔ هر افغان است، مگر نهادهای دولتی مانند قوت های نظامی، مسوولیت اساسی این ماموریت را بر عهده دارند.

و زارت امور خارجه که به حیث کانال رابط میان حکومت و مردم افغانستان و دنیای خارج حداقل کار ابراز نگرانی های حکومت و مردم را بر عهده دارد، نباید تنها به حیث همکار متحدان بین المللی حکومت افغانستان و سخنگوی خارجی حکومت عمل نماید و به حیث بخشی از حکومت منتخب و یک نهاد دولتی، به نگرانی های مردم و منافع ملی نیز، توجه نماید.

زنده باد ژورنالیزم!

رسانه ها را برحق " واچ داگ" یا نگهبان دموکراسی نامیده اند. این رسانه ها بودند که سخنان رییس جمهور ایران آقای احمدی نژاد و سایر اعمال حکومت ایران را وارد بحث سیاسی ساختند؛ در حالی که جامعهٔ ما از نگاه احزاب سیاسی غنی تر از هر کشور دیگر است. به همین منوال، می توان از سایر ساختارهای ذیربط در جامعهٔ مدنی یاد کرد که یا با سکوت با مسأله برخورد کرده اند و یا در خاموشی به تایید معترضان پرداختند. چه چیزی این سازمان ها را به عدم واکنش واداشته است؟ آنانی که خود را در اپوزیسیون قرار می دهند و در حقیقت گروپ فشار (ی) بیش نیستند و گاه گاهی به خاطر تثبیت حضور برای نمایش تلویزیونی حضور می رسانند، نیز برای دفاع از منافع ملی و تمامیت ارضی ابزار موضعگیری ننمودند. به این ترتیب، فرصت های اعتراض علیه مداخلات ایران در امور داخلی و علیه تجاوزات سرحدی را همهٔ این ساختارها از دست دادند.

مردم دوستی و میهن دوستی باید کم از کم به وسیلهٔ ریتوریک و سمبولیک نیروهای سیاسی، جامعهٔ مدنی و نهادهای دولتی، باوصف وابستگی های (کامل و نسبی) نشان داده شود. درحالی که هم صلاحیت و هم مسوولیت اساسی به ایلیت سیاسی ونیروهای مسلح افغانستان تعلق می گیرد، نیروهای سیاسی و اجتماعی به شمول اتحادیه های اصناف فارغ از مسوولیت پنداشته نمی شوند. مسوولیت نخستیی ها وظیفوی و ایمانی و از دومی ها، ایمانی واخلاقی شمرده می شود.

در مقدمهٔ قانون اساسی کشوردر بند ششم ابرازگردیده که: " به منظور تحکیم وحدت ملی و حراست از استقلال، حاکمیت ملی و تمامیت ارضی کشور...این قانون اساسی را ...در شهر کابل تصویب کردیم."

مادهٔ هشتم دولت را مکلف می سازد ص۳

پیوندگر گسستگی

زهرا سادات

برای من و نسل‌های جوانی مثل من که سال‌هاست در فضای دود و باروت گیر مانده‌ایم، تا آنجا که یادم می‌آید، نداشتن گذشته‌های خوب، حال خوب و آیندهٔ مبهمی که در راه است، جنون یک سوال را در ذهن تکثیر می‌کند که آخر ما که هستیم و در کجا ریشه داریم: جنگ و خشونت؟ یا ادب، فرهنگ و هنر؟

اگر قلعهٔ اختیارالدین، مسجد گوهرشاد و مکان‌های دیگری از این دست را ندیده بودم، حتماً به گذشته‌های دور و گذشته گان‌ما نیز، شک می‌کردم.اما حالا کاملاً فرق می‌کند.بودن در قلعهٔ نه‌برجه، احساس دیگری را در من زنده می‌کند.قلعه در یک سراشیبی کوچک و در نقطه‌یی خلوت از کارتهٔ پروان کابل، قرار گرفته‌است.

روی در و دیوارهای قلعه خبری از تجدد و زرق و برق خانه‌های امروزی نیست.دیوارهای بلند گلی و در چوبی بزرگ با کنده‌کاری‌های زیبا و منقش، انسان را به گذشته‌های دور می‌برد که یا در سیری به میراث‌های فرهنگی دیده‌یی و شاید هم در فلم‌های تاریخی.اما به هر حال، این زیبایی آن قدر گیراست که برای لحظه‌یی میان ماندن و رفتن دچار دو دلی می‌شوی.

سنگریزه‌ها، فضای داخلی قلعه را پوشانده‌است و در گوشه و کنار، باغچه‌های زیبایی دیده می‌شود که حریم آنها با سنگ‌کاری‌های زیبا مشخص شده‌است؛ ساختمان‌هایی با شکل و طرح قدیم، اما ترمیم‌شده، در جای جای قلعه به چشم می‌خورد.

قلعهٔ نه‌برجه که از آن به نام قلعهٔ امیر عبدالرحمن‌خان نیز یاد می‌شود، روزگاری برای شکار بود.گذر سال‌ها و نابسامانی‌های فراوان در افغانستان، هشت برج قلعه را محکوم به فرو ریختن کرد و اینک آنچه بر جای مانده، قلعه‌یی است، با برجی تنها.

چند سالی است که قلعه با فنون علمی و تخصصی ترمیم و فضای تفریحی آن به فضایی آموزشی به نام فیروزکوه، مبدل ص۳

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۶۵۷۴۷۵۷ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنک، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com